# معارف
اوونیزه
هفته نامه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۲۷) ماه محرم‌الحرام ۱۴۴۸ هـ ق. مطابق ماه جوزا ۱۴۰۵ هـ ش


**علماء د ټولنې په وجود کې د زړه حیثیت لري.**

## برگزاری امتحان رقابتی برای ۲۹ بست خالی اداری



ریاست معارف ولایت کابل به منظور استخدام افراد شایسته، مسلکی و متعهد، برای ۲۹ بست خالی اداری آمریت های معارف ولسوالی‌های این ولایت امتحان رقابتی برگزار کرد.

در این امتحان که هم زمان در مسجد جامع عبدالرحمن شهر کابل و لیسه قلعه مرادبیک ولسوالی شکردره ولایت کابل برگزار شد ۲۱۰۴ تن متقاضی شرکت کرده بودند.

محترم الحاج مولوی عبدالخالق صادق، معین تضمین کیفیت وزارت معارف حین بازدید از جریان برگزاری امتحان یاد شده گفت: فراهم‌سازی زمینه رقابت آزاد برای جذب افراد مستعد و واجد شرایط، گامی مهم در راستای بهبود و تقویت کیفی نظام آموزشی ملک است.

وی افزود: هدف اساسی این روند، معیاری‌سازی نظام آموزشی، تقویت ظرفیت‌های اداری و ارتقای کیفیت خدمات آموزشی می‌باشد.

همچنان محترم الحاج مولوی عبدالسلام شعیب رئیس معارف ولایت کابل در رابطه به روند اعلان بست‌ها، ثبت‌نام متقاضیان، تهیه فهرست نهایی و برگزاری امتحان رقابتی معلومات ارائه کرد و به اشتراک‌کنندگان اطمینان داد که تمامی مراحل این روند با شفافیت کامل، عدالت و بی‌طرفی کامل انجام شده و نتایج امتحان مطابق اصول و مقررات نافذه اعلام خواهد شد.

به گفته مسئولان، استخدام و جذب افراد شایسته و مستعد از طریق رقابت آزاد یکی از اولویت‌های اساسی وزارت معارف به شمار می‌رود تا زمینه ارتقای کیفیت و افزایش مؤثریت در نظام آموزشی کشور بیش از پیش فراهم شود.

**په تقنیني سندونو، کتابونو او رسالو، مکتوبونو، قضایي فیصلو او د صلحې او مصالحې خطونو په پیل کې د "بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ" حمد او صلواة د لیکنې په هکله**

### د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی

# فرمان

**ګڼه: (۳۱٦)**

**لومړی ماده:**

**(۱)د تقنیني سندونو، کتابونو او رسالو په پیل کې د بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ، حمد او صلواة ولیکل شي. "بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ، اَلحمدلله رب العالمین و الصلاة والسلام علی سید المرسلینَ و علی آله و اصحابه اجمعین."**

**دوه یمه ماده:**

**د مکتوبونو، قضایي فیصلو، د صلحې او مصالحې د خطونو په پیل کې د یوازې " بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ" ولیکل شي.**

**درېیمه ماده:**

**وزارتونه او امارتي اداري مکلفې دي، په خپلو اجراآتو کې د دې فرمان په لومړۍ او دوه یمه ماده کې درج شوي حکمونه رعایت کړي.**

**والسلام**

## آغاز کار ساخت صنوف درسی در زابل

مسئولان ریاست معارف ولایت زابل از آغاز کار ساخت ۶ صنف درسی برای لیسه عالی عظمت در ولسوالی شاه جوی ولایت زابل خبر میدهند. به گفته مسئولان ریاست معارف آن ولایت هزینه ساخت صنوف درسی یاد شده ۳۵۰ هزار افغانی تخمین گردیده که از سوی باشنده گان محل کمک شده است.

مسئولان معارف می افزایند که با تکمیل شدن آن مشکل نبود صنوف درسی شاگردان این لیسه حل و برای بیش از ۱۵۰ تن شاگرد محیط مناسب آموزشی فراهم خواهد شد.

رهبری وزارت معارف از همکاری مردم به ویژه باشنده گان ولسوالی شاه جوی ولایت زابل با معارف ابراز قدردانی نموده و حمایت مردم از معارف را گام مهم در راستای ترقی و پیشرفت علم و دانش در ملک مهم و ارزنده عنوان می کند.

## په ارزګان ولایت کې یو باب ښوونځی ترمیم شو



د ارزګان ولایت پوهنې ریاست مسئولین وایي چې د یاد ولایت دهراود ولسوالۍ اړوند د لیلان علیاء په نوم د لومړني ښوونځي د بیارغونې او ترمیم چارې بشپړې او د یوې غونډې په ترڅ کې چې د پوهنې ریاست مسئولینو، یو شمېر علماءکرامو، استادانو او د سیمې مخورو په کې ګډون درلود ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست مسئولین زیاتوي چې د یاد ښوونځي د ترمیم ټول تال لګښت ۸ میلیونه ۶۶۲ زره او ۷۱۴ افغانۍ شوی چې د یوه همکار بنسټ له لوري مرسته شوې.

د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایي چې ددې ښوونځي په بیارغونې سره د یادې سیمې په سلګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې مناسب چاپېریال برابر شوی دی، هغوی همداراز له نورو هېوادوالو او همکارو بنسټونو وغوښتل چې د تل په څېر په ملک کې د پوهنې د پراختیا او د پوهنیز نظام د لا پیاوړتیا په برخه کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

## په دایکنډي ولایت کې د دوه بابه ښوونځیو دجوړولو چارې پیل شوې



د دایکنډي ولایت د اشترلي ولسوالۍ په دهنقل ساران لیسه کې د نوې ودانۍ جوړولو چارې د یو لړ مراسمو په ترځ کې چې په کې د پوهنې ریاست د مسئولینو سربېره یو شمېر علماءکرامو او قومي مشرانو هم ګډون درلود پیل شوې.

د دایکنډي ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایي یاده ودانۍ پر ۴ جریبه ځمکه کې چې د سیمې د اوسېدونکو له لوري د ښوونځي لپاره وقف شوې ده د ۶ میلیونه افغانیو په ټولیز لګښت په پاخه او اساسي ډول جوړېږي چې ۱۲ درسي ټولګي، یوه اداري خونه او نور اړین ملحقات به ولري.

همداراز د شهرستان ولسوالۍ اړوند د سفید پشته لرګر د منځني ښوونځي د جوړولو چارې د ۳ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې.د یاد ښوونځي ودانۍ به په ۳ جریبه ځمکه کې چې د یادې ولسوالۍ د دوه تنو اوسېدونکو لخوا د ښوونځي جوړېدو ته وقف شوې وه جوړه شي. دایکنډي ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو د معلوماتو له مخې یاد ښوونځي به ۴ درسي ټولګي، ۲ اداري خونې او نور اړین ملحقات ولري.

د مسئولینو د معلوماتو له مخې د دغو ښوونځیو په جوړېدو سره به د یادو سیمو سلګونو تنه زده‌کوونکو ته د زده کړې مناسب او معیاري ښوونیز چاپېریال برابر شي.

### در این شماره


له علم او پوهې څخه ملاتړ د هر افغان مسؤلیت دی — مخ ۲
پروان ولایت کې د یو باب دیني مدرسې د جوړولو چارې پیل شوې — مخ ۲
د اسلامي عقیدې په ساتنه کې د علماوو، لیکوالانو او رسنیو ونډه — مخ ۳
از غم و اندوه دوری کنید — مخ ۳

سر لیکنه

# له علم او پوهې څخه ملاتړ د هر افغان مسؤلیت دی

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَ عَلٰی آلِهٖ وَأَصحَابِهٖ أَجْمَعِیْنَ

د علم زده کړه د ټولنو د پرمختګ، عزت او بقا تر ټولو ځواکمنه شتمني ده. هغه ولسونه چې د پوهې، تعلیم او روزنې برخې ته یې ډېره پاملرنه کړې، نن د نړۍ پرمختللو ملکونو په کتار کې شمېرل کېږي، له نېکه مرغه په افغانستان کې د اسلامي امارت له واکمنېدو تر دې مهاله هرې برخې ته په ځانګړې توګه ښوونې او روزنې ته ځانګړې پاملرنه شوې چې ددې هڅو په پایله کې په ډېرو سیمو کې د مدرسو او ښوونځیو د جوړېدو او پراختیا بهیر چټک شوی دی. په هغو لرې پرتو سیمو کې چې پخوا ماشومان د زده کړو له نعمت څخه بې‌برخې وو، لله الحمد اوسمهال د علم رڼا خپره ده.

دا پرمختګ یوازې د امارتي ادارو د هڅو پایله نه، بلکې د ولس پراخ ملاتړ او مرسته هم پکې مهمه ونډه لري. زموږ ګنو هېوادوالو خپلې ځمکې د مدرسو او ښوونځیو د جوړولو په موخه وقف کړې، ځینو نورو د ودانیو په جوړولو کې مالي مرستې کړې، او ځینو علم دوسته هېوادوالو د کتابونو، مېز او څوکیو، لمریزې برېښنا، د څښاک پاکو اوبو برابرولو او نورو اړینو وسایلو د چمتو کولو په برخه کې خپل مسئولیت په اخلاص او رښتیني توګه ادا کړی. دا حقیقت باید هر افغان درک کړي چې د یوې مدرسې او ښوونځي په جوړولو کې ونډه اخیستل یوازې د ودانیزو توکو چمتو کول نه؛ بلکې د یوه نسل د روزلو، د ماشومانو د راتلونکي د روښانه کولو او د یوې ټولنې د ودې او پرمختګ لپاره پانګونه ده. هغه هېوادوال چې د علم د ودې لپاره مرسته کوي، په حقیقت کې د لسګونو او سلګونو ماشومانو په ژوند کې د مثبت بدلون راوستلو لامل کېږي. د یوه خیرغوښتونکي له لوري برابر شوي درسي توکي د داسې طُلابو العلم او زده کوونکو لاس ته رسېږي چې سبا یو تکړه عالم، مدرس، استاذ، ډاکټر، انجنیر او یا هم د ملک یو رښتینی خدمتګار شخصیت ترې جوړېږي. د معارف د ملاتړ په برخه کې مادي مرستې مهمې دي، خو د معنوي ملاتړ ارزښت یې هم کم نه دی. ډېر داسې خلک شته چې ښایي د مالي مرستې توان ونه لري، خو کولای شي د علم د ارزښت په اړه عامه پوهاوی ورکړي، ماشومان ښوونځیو ته وهڅوي، د زده کوونکو ملاتړ وکړي، د ښوونکو درناوی وکړي او په ټولنه کې د تعلیم مثبت کلتور پیاوړی کړي. کله چې والدین خپل اولاد د زده کړې لپاره هڅوي، یو دیني عالم په ممبر د علم او زده کړې ارزښت بیانوي او یو قومي مشر د مدرسې او ښوونځي ملاتړ کوي، نو دا ټول د معارف د پیاوړتیا برخه جوړوي.

نن چې د الله جل جلاله په فضل او کرم افغانستان د بیارغونې او پرمختګ په لور ګامونه اوچتوي، تر هر څه زیات د علم او پوهې په ګانه سمبال وګړو ته اړتیا لري. یو پرمختللی او په ځان بسیا افغانستان به د همدغو ماشومانو او ځوانانو په لاس جوړیږي چې اوس په مدرسو او ښوونځیو کې په زده کړو بوخت دي. له همدې امله دا د هر افغان مسئولیت دی چې د معارف او تعلیم ملاتړ یوازې د یوې ادارې مسئولیت ونه ګڼي، بلکې دا د خپل دین، ملک او راتلونکي نسل پر وړاندې خپل مسؤلیت وګڼي. هره مرسته، که کوچنۍ وي او که لویه، ارزښت لري. د یوه کتاب ډالۍ کول، د یوه طالب العلم او زده کوونکي لاسنیوی، د یوې مدرسې او ښوونځي په جوړولو کې مرسته یا حتی د علم د ارزښت په اړه عامه پوهاوی ورکول هم د خیر او پرمختګ برخه ده.

نو ګرانو هېوادوالو! راځئ چې د علم د ودې دا کاروان لا پیاوړی کړو، د ښوونې او روزنې له مرکزونو ملاتړ وکړو، خپل اولادونه زده کړو ته وهڅوو او د داسې افغانستان د جوړولو لپاره لاسونه سره ورکړو چې بنسټ یې پر علم، پوهه او پرمختګ ولاړ وي. د علم او معارف ملاتړ یوازې د یوې ادارې مسئولیت ونه بولو بلکې د خپل ایمان، وجدان او خپلو ماشومانو د روښانه راتلونکې په وړاندې یې د خپل مسؤلیت برخه وګڼو. هغه ملت چې د علم او پوهې مشال بل ساتي، هېڅکله د تیارو په منګولو کې نه پاتې کېږي.

الله تعالی دې موږ ټولو ته د دې ستر امانت د پالنې او پیاوړتیا توفیق راکړي. آمین

## پروان ولایت کې د یو باب دیني مدرسې د جوړولو چارې پیل شوې

د پروان ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایي د یاد ولایت په بګرام ولسوالۍ کې د فاطمة‌الزهرا رضی الله تعالی عنها په نوم د یو باب دیني مدرسې د جوړولو چارې د یوې غونډې په ترځ کې چې په کې د پوهنې ریاست د مسئولینو سربېر یو شمېر علماءکرامو، قومي مشرانو هم ګډون درلود، پیل شوې.

د پروان ولایت د پوهنې ریاست دمسئولینو په وینا، دغه مدرسه به په دوو پوړونو کې په پاخه او اساسي ډول جوړه شي، چې د ۱۴ درسي ټولګیو سربېره به اداري خونې، تشنابونه او نورې اړینې آسانتیاوې ولري.

مسئولین زیاتوي چې د یادې مدرسې د ودانۍ د جوړولو ټولیز لګښت ۶.۴ مېلیونه افغانۍ اټکل شوی، چې د سیمې د اوسېدونکو لخوا به تمویل شي.

د پوهنې وزارت مشرتابه د ښوونیز نظام څخه د خلکو له ملاتړ او مرستو مننه او هرکلی کوي.

## برگزاری نشست آموزشی برای معلمین شماری از مکاتب شهر کابل

ریاست معارف شهر کابل به همکاری یک نهاد همکار نشست آموزشی ارتقای ظرفیت‌های مسلکی و اصول صنفی را برای ۱۳۸ تن از معلمین شماری از مکاتب شهر کابل برگزار کرد.

محترم مولوی حسیب‌الله صاحب‌زاده رئیس معارف شهر کابل طی سخنانی هدف از برگزاری این برنامه را تقویت توانایی‌های مسلکی معلمین، ارتقای مهارت‌های مدیریت صنفی و بهبود کیفیت آموزش شاگردان عنوان نموده تأکید کرد که ارتقای ظرفیت های مسلکی معلمین در بهبود کیفیت آموزش موثر بوده و ادامه چنین نشست ها برای معلمین مهم و ارزنده می باشد.

رئیس معارف شهر کابل از اشتراک کننده گان خواست تا از داشته های این نشست استفاده اعظمی نموده وتجارب علمی که از برنامه بدست میاورند را با سایر همکاران شان نیز شریک سازند. در این حال اشتراک کننده گان برنامه نیز از راه اندازی این چنین نشست های آموزشی ابراز خرسندی نموده و خواهان ادامه آن در آینده شدند.

## په سرپل ولایت کې د یو باب ښوونځي پراختیا لپاره ځمکه وقف شوه




د سرپل ولایت سانچارک ولسوالۍ اړوند د ایل‌نبي کلي د بي‌بي آمنې لومړني ښوونځي د پراختیا په موخه، د سیمې اوسېدونکو له لوري ۵۰۰ متره مربع ځمکه وقف شوه.


د یاد ولایت پوهنې مسؤلینو په وینا، دغه ځمکه د ښوونځي د بنسټیزو آسانتیاوو د پراختیا او زده‌کوونکو ته د مناسب ښوونیز چاپېریال برابرولو لپاره ځانګړې شوې ده. له بلې خوا، د شمس لېسې د پوهنې ملاتړ شورا او د سیمې علم دوسته اوسېدونکو د همدې ولسوالۍ په کچه د یاد ښوونځي د زرغونتیا او شنې ساحې را منځ ته کېدو په موخه د ۱۰۰ اصله غیر مثمرو ونو او له خیریه صندوق سره ۱۰ زره افغانیو نغدي مرسته وکړه. د مسوولینو په وینا، دغه مرسته شوې پیسې به د ښوونځي د درېیو تنو رضاکارو ښوونکو سره مرسته وشي، چې به دې سره به د ښوونیز بهیر اغېزناک تمام شي.

## د ساینس مرکز رئیس
## د میدان وردګ ولایت له یو شمېر ښوونیزو مرکزونو څخه لیدنه وکړه

د پوهنې وزارت د ساینس مرکز رئیس محترم محمد عمر دورانزي، د میدان وردګ ولایت پوهنې ریاست په همغږۍ، د یاد ولایت د سیدآباد ولسوالۍ له یو شمېر ښوونیزو بنسټونو څخه لیدنه وکړه. د یادې لیدنې پر مهال نوموړي د اونخي، میلادالنبي ﷺ او دوراني لېسو د درسي ازمېښتونونو، کمپیوټر ټولګیو او اداري او تدریسي برخو څخه لیدنه وکړه.

پلاوي خوښي څرګنده کړه چې ښوونکو له شته امکاناتو او درسي وسایلو څخه په سمه او اغېزناکه توګه ګټه اخیستې او د تدریس بهیر په ښه توګه پر مخ وړل کېږي. همدارنګه مسئولینو ډاډ ورکړ چې د پوهنې وزارت د ساینس مرکز به په راتلونکي کې هم په ښوونځیو کې د درسي مضمونونو د عملي تدریس د پیاوړتیا او پراختیا لپاره هر ډول اړینې همکارۍ او مرستې ترسره کړي.

## په پکتیکا ولایت کې د یو باب دیني مدرسې لپاره ودانۍ جوړه شوه




د پکتیکا ولایت په مرکز ښرنه کې د بي بی عایشه صدیقه رضي الله تعالی عنها په نوم د یو باب دیني مدرسې لپاره نوې ودانۍ جوړه او د یوې غونډې په ترځ کې چې د پوهنې ریاست د مسئولینو سربېره په کې علماءکرامو او یو شمېر قومي مشرانو هم ګډون درلود ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د پکتیکا ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایي چې یاده ودانۍ د ځایي اوسېدونکو په مالي مرسته د ۱ مېلیون افغانیو په لګښت په پاخه او اساسي ډول جوړه شوې چې په جوړېدو سره یې ۲۵۰ تنو طُلاب العلم لپاره د زده کړې مناسب او خوندي ښوونیز چاپېریال را منځ ته شوی.

د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو د یادې مدرسې د ودانۍ په جوړېدو کې د سیمې اوسېدونکو له مرستو مننه وکړه او له نورو هېوادوالو یې هم وغوښتل چې په ملک کې د علم او پوهې د ودې لپاره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

## برگزاری کارگاه‌های آموزشی برای مسئولین مکاتب در ولایت لوگر




کارگاه های آموزشی کوتاه مدت برای ۱۸۰ تن آمرین، سر معلمین و اعضای شوراهای ۲۵ مکتب در مربوطات شهر پل‌علم، مرکز ولایت لوگر به صورت جداگانه آغاز شد.

کارگاه های مذکور در هماهنگی با وزارت معارف و حمایت مالی یک نهاد همکار راه اندازی شده است که هدف آن بلند بردن سطح علمی و مسلکی کارکنان اداری و تدریسی مکاتب، بهبود کیفیت تدریس در مکاتب و هم چنان آموزش اعضای شوراها در حمایت از روند معارف می‌باشد.

در این کارگاه ها، ۲۰ تن آمرین و سرمعلمین و ۸۰ تن معلمن ۲۵ مکتب در بخش‌های مشخص اداری و تدریسی آموزش می‌بینند و همچنان ۸۰ تن اعضای شوراها نیز در زمینه وظایف و مسئولیت‌های شان آموزش داده می‌شوند.

# لنډ خبرونه

**کابل**

به هزینه ۲ میلیون و ۴۰۰ هزار و ۲۲۰ افغانی از مساعدت یک نهاد همکار با معارف، حفر یک حلقه چاه آب به عمق ۲۱۰ متر و ایجاد سهولت برق آفتابی برای لیسه‌عالی سیدالناصری در شهر کابل تکمیل و در حضور مسئولان ریاست معارف شهر کابل به بهره‌برداری سپرده شد.

**بامیان**

د پوهنې وزارت د اساسي او ثانوي زده کړو رئیس محترم الحاج مولوي موسی جان آغا، د رسمي سفر په ترڅ کې بامیان ولایت ته لاړ او هلته یې د یاد ولایت له پوهنې رئیس، محترم قاري عنایت الله سهار سره وکتل. دغه لیدنه د بامیان ولایت د اساسي او ثانوي زده کړو بهیر د ودې او پیاوړتیا د لارو چارو ارزونې په موخه ترسره شوه.

**پکتیکا**

وزارت معارف برای ریاست معارف ولایت پکتیکا به ارزش ۶ میلیون افغانی اوراق اداری چاپی ارسال کرد. محترم مولوی عبدالوکیل خالد، رئیس معارف ولایت پکتیکا گفت؛ اوراق یاد شده اکثرا اسناد چاپی و فورمه های اداری می باشد که جهت پیشبرد کار های روزمره در آن ریاست ضروری می باشد.

**پنجشیر**

به تعداد ۲۰۹ بسته مواد ممد درسی معلمان و شاگردان به ارزش مجموعی ۷۸۱ هزار و ۴۵۷ افغانی از سوی یک نهاد همکار با معارف با مکاتب ولایت پنجشیر مساعدت شد که قرار است مواد یاد شده مطابق سهمیه تعیین شده، به مکاتب آن ولایت توزیع شود.

**هلمند**

د ګرمسیر ولسوالی اړوند ۲۳ دیني مدارسو مهتممینو ته د احصائیوي فورمونو ترتیب او ډکولو په اړه یو ورځنی ښوونیز پروګرام ترسره شو.
د مسئولینو په وینا، په یاد پروګرام کې ګډونوالو ته د احصائیوي فورمونو د سم، دقیق او معیاري ډکولو لارې چارې تشریح او د فورمونو د هرې برخې په اړه اړین معلومات وړاندې شول.

**هرات**

به تعداد ۲۰۰هزار جلد کتاب درسی اضافی از سایر مکاتب این ولایت جمع آوری و برای شاگردان مکاتب مرکز و ولسوالی‌های این ولایت که با کمبود کتب درسی روبه‌رو بودند، توزیع شد.

**تخار**

سنگ تهداب تعمیرهای جدید برای ۳ باب مکتب در ولسوالی رستاق ولایت تخار به هزینه مجموعی ۳۹۰ هزار دالر به کمک مالی تاجران و مردم محلی طی محفلی با حضور مسئولان معارف آن ولایت گذاشته شد.

**خوست**

ریاست معارف ولایت خوست به هدف بلند بردن ظرفیت های مسلکی معلمان و بهبود کیفیت تدریس، مجالس تعلیمی را برای ۶۳۵ تن معلمین از ۴۸ مکتب مرکز و ولسوالی‌ های آن ولایت برگزار کرد.

**بادغیس**

به تعداد ۲۰۸۶ بسته قرطاسیه و مواد ممد درسی شاگردان و به تعداد ۱۰۴۳ بسته ممد درسی برای معلمین از سوی یک نهاد همکار با ریاست معارف ولایت بادغیس مساعدت شده که قرار است طبق سهمیه برای بیش از ۸۵ هزار تن شاگرد صنف اول الی ششم و معلمان آن ولایت توزیع شود.

# د اسلامي عقیدې په ساتنه کې د علماءکرامو، لیکوالانو او رسنیو ونډه

اسلامي عقیده د مسلمان امت د پیداینښت، هویت، یووالي او بقا اساسي بنسټ ګڼل کېږي. هر کله چې د امت عقیده کمزورې شوې، د مسلمانانو فکري، اخلاقي او ټولنیز حالت هم زیانمن شوی دی. د تاریخ په اوږدو کې د اسلام دښمنانو تل هڅه کړې چې د مسلمانانو عقیده کمزورې کړي، د دوی فکرونه ګډوډ کړي او د دیني ارزښتونو پر وړاندې شکونه پیدا کړي. په اوسني عصر کې دا فکري جګړه له پخوا ډېره چټکه شوې ده، ځکه نننۍ رسنۍ، ټولنیزې شبکې او پراخ معلوماتي وسایل د انسان پر فکر مستقیمې اغېزې لري. په همدې دلیل د اسلامي عقیدې ساتنه یوازې د جوماتونو او مدرسې مسئولیت نه دی؛ بلکې علماء کرام، لیکوالان او رسنۍ ټول په دې برخه کې ستر مسئولیت لري.

علماءکرام د اسلامي عقیدې د ساتنې لومړني سنګروال بلل کېږي. د امت د فکري لارښوونې لوی مسئولیت د دوی پر اوږو دی. خلک د دین اساسي مفاهیم، عقاید، حلال او حرام د علماوو له لارې پېژني. که علماءکرام خپل مسئولیت په اخلاص، علم او حکمت ترسره کړي، نو ټولنه له ګڼو فکري انحرافاتو ژغورل کېدای شي. علماءکرام د دیني درسونو علاوه د معاصر وخت فکري جریانونه، شکونه او نظریې هم باید وپېژني، څو د ځوان نسل پوښتنو ته منطقي او قوي ځوابونه وړاندې کړي.

تر څنګ یې لیکوالان هم مهمه ونډه لري. لیکنه د فکر د لېږد اغېزمنه وسیله ده. ډېر داسې خلک شته چې شاید دیني مجلسونو کې ګډون ونه کړي، خو کتابونه، مقالې، ویب سایټونه او ټولنیزې شبکې لولي. که لیکوالان د عقیدې، اخلاقو او اسلامي فکر په اړه قوي، رواني او فکري لیکنې وړاندې کړي، نو د ټولنې د وګړو پر ذهنونو ژورې اغېزې پرې باسي.

نن اړتیا ده چې لیکوالان د زمانې ژبه وکاروي، د خلکو فکري ستونزې درک کړي او د اسلام پیغام په معاصر او منطقي انداز وړاندې کړي.

رسنۍ بیا له ټولو پراخې او چټکې اغېزې لري. نن یوه ویډیو، یو پوسټ یا یوه خپرونه په سرعت او چټکۍ سره میلیونونو کسانو ته رسېږي. له همدې امله رسنۍ د فکر جوړولو له ټولو قوي وسیلې ګرځېدلې دي. که رسنۍ د اسلامي ارزښتونو، اخلاقو او سالم فکر د خپرولو لپاره وکارول شي، د ټولنې په اصلاح کې ستر بدلون راوستلی شي، خو که همدا رسنۍ یوازې د بې‌هدفه تفریح، شایعاتو او اخلاقي انحرافاتو وسیله شي، نو د ټولنې د وګړو فکري او اخلاقي زیان به ډېر پراخ وي.

اوسنۍ ستونزه دا ده چې ډېر مسلمان ځوانان خپل فکري معلومات له نامعتبرو سرچینو، لنډو ویډیوګانو او احساساتي محتواوو اخلي. پایله یې دا ده چې ژوره مطالعه، څېړنه او فکري تحلیل کمزوری شوی دی. دلته د علماوو، لیکوالانو او رسنیو ګډ مسئولیت دی چې داسې محتوا تولید کړي چې هم علمي ځواک ولري، هم روانه ژبه او هم د نننی نسل ذهني اړتیاوې درک کړي.

یوه بله مهمه خبره دا ده چې یوازې د مخالف فکر ردول بسنه نه کوي. اسلامي فکر باید په علمي او اخلاقي بڼه وړاندې شي. که مسلمانان یوازې شعارونه ولري، خو په عمل، اخلاقو، علم او نظم کې کمزوري وي، نو د هغوی خبرې اغېزې له لاسه ورکوي. خلک یوازې خبرې نه اوري؛ بلکې عمل، اخلاق او واقعیت هم ارزوي.

علماءکرام د دین علمي او شرعي توجیه ترسره کوي، لیکوالان د امت فکر روزي او رسنۍ دغه پیغام تر ولسونو رسوي. که لیکوالان او رسنۍ له علماوو سره په اخلاص، بصیرت، علم او متقابل تفاهم خپل مسئولیت ادا کړي، نو د اسلامي فکر، عقیدې او فرهنګي هویت ساتنه به لا پیاوړې شي، خو که دا میدان تش پاتې شي، نو پردي افکار، منحرف نظریات او بېلابېل ذهني تمایلات به د ځوان نسل اذهان په آسانۍ سره بیا اشغال کړي.

**حمیدالله حمزه**

# از غم و اندوه دوری کنید




ابن قیم رحمة‌الله می‌فرماید:
کلمه غم در هر جایی از قرآن که آمده است از آن منع شده است همانطور که در کلام الله متعال جل جلاله است:
وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ {آل عمران: ۱۳۹}
ترجمه: «و سست نشوید و اندوهگین نگردید، در حالی که اگر مؤمن باشید شما برترید.»
سِر این امر (نهي و نفي اندوه) در این نهفته است که اندوه محبوب‌ترین چیز برای شیطان است تا که بندهٔ مؤمن را ناراحت کند تا او را از سیرت اش(خلق و خوي ذاتي) جدا کند و از رفتار و سلوکش متوقف سازد.
پیامبراکرم ﷺ از آن به الله جل جلاله پناه برده و چنین فرموده است:
اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ
ترجمه: یا الله از غم و اندوه به تو پناه میبرم.
ابن قیم رحمة‌الله می فرماید: غم ، قلب را ضعیف می‌کند، همت را سست می‌کند و اراده را خراب می‌کند، و محبوب‌ترین چیز برای شیطان، غم مؤمن است.
به همین خاطر باید خوشحال باشید و خوش خبری بدهید و خوشبین باشید، و گمان نیکو داشته باشید و به آنچه نزد الله متعال جل جلاله است اعتماد کنید و بر او توکل کنید خوشبختی و رضایت را در هر حالتی خواهید یافت.
یکی از گذشتگان می‌فرماید: من خواسته‌یی را که از الله جل جلاله طلب می‌کردم پس اگر به من می‌داد یک بار خوشحال می‌شدم و اگر آن را به من نمی‌داد ده بار خوشحال می‌شدم زیرا اولی انتخاب من بود و دومی انتخاب الله جل جلاله.

**محمد صمیم یعقوبی**

# توکل

توکل برخدایت کن؛
کفایت میکند حتماً؛
اگرخالص شوی با او؛
صدایت میکند حتماً؛

اگربیهوده رنجیدی؛
ازاین دنیای بی رحمی؛
به درگاهش قناعت کن؛
عنایت میکند حتماً؛

دلت درمانده میمیرد؛
اگر غافل شوی از او؛
به هر وقتی صدایش کن؛
حمایت میکند حتماً؛

خطا گرمیروی گاهی؛
به خلوت توبه کن با او؛
گناهت ساده می‌بخشد؛
رهایت می‌کند حتماً؛

به لطفش شک نکن؛
اگر دنیا حقیرت کرد؛
تو رسم بندگی آموز؛
حمایت می‌کند حتماً؛

اگر غمگینی اگر شادی؛
خدایت را پرستش کن؛
که هر دم بهترین‌ها را؛
عطایت می‌کند حتماً؛

**مولانا بشیر احمد خطیبی**

Marif
Weekly

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 327 /2026

کتنپلاوی:
شیخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزیز احمد «ریان»
مولوي حبیب الله «مؤذن»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسیم «عیاذ»

مسئول مدیر: سعید «جلال»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»

صفحه آرا : محمد قسیم «یعقوبي»
شمېر : ۳۰۰۰
پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت

د پوهنې کاروان مینه والو!
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او ټلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

# د کابل ښار تعلیمي حوزو ښوونکو لپاره یوه ورځنۍ اصلاحي ښوونیزه او روزنیزه غونډه جوړه شوه

د پوهنې وزارت د امر بالمعروف، نهی عن المنکر قانون د انفاذ کار ډلې او د دعوت او ارشاد ریاست له لوري د کابل ښار یو شمېر ښوونیزو حوزو ښوونکو ته د یاد وزارت د غونډو په تالار کې، یوه ورځنۍ اصلاحي ښوونیزه او روزنیزه غونډه جوړه شوه.


په دغه ښوونیزه او روزنیزه غونډه کې د پوهنې وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس محترم شیخ محمد طاووس طارق، د دعوت او ارشاد رئیس محترم الحاج مولوي جمعه خان سروري، یوشمېر ښوونکو او علماءکرامو ګډون درلود.

غونډه د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه، ورپسې د پوهنې وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس ګډونوالو ته د امربالمعروف، نهی عن المنکر قانون په پلي کېدو کې د ښوونکو د مسئولیت په هکله علمي ویناوې وکړې او له هغوی یې وغوښتل چې د اسلامي شریعت په رڼا کې د زده کوونکو په ښوونه، روزنه او د امربالمعروف قانون په پلي کولو کې خپل بشپړ دیني مسئولیت ترسره کړي.

په دې غونډه کې د کابل ښار د پنځمې، شپږمې، اوومې او دیارلسمې ښوونیزو حوزو د ښوونکو استازو د یادې غونډې له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د امر بالمعروف، نهی عن المنکر قانون د ارزښت، د ښوونکي مقام او مسئولیت، د زده کوونکو فکري روزنې، د لمانځه او جماعت د ارزښت په تړاو یې علمي ویناوې وړاندې کړې او څرګنده یې کړه چې د اسلامي نظام د پیاوړتیا او د ټولنې د اصلاح او ښېرازۍ لپاره د پورته ذکر شویو قوانینو تطبیق د هر مؤمن مسلمان دنده او مسئولیت ګڼل کېږي.

همدارازدې ښوونیزې او روزنیزې غونډې په پای کې د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس، د دعوت او ارشاد د اساسي موخو او اړتیاوو د بیان سربېره، ګډونوالو ته لازمې سپارښتنې وکړې او ډاډ یې ورکړ چې دا ډول روزنیزې برنامې به په راتلونکي کې هم دوام ولري.

# پە کابل ښار کې دڅه باندې ۴ میلیونه افغانیو پە لګښت یو باب ښوونځی ترمیم شو



د کابل ښار څلورمې ناحیې اړوند تاجور سلطانه عالي لیسې د ودانۍ دبیارغونې او ترمیم چارې د یوه همکار بنسټ په مالي ملاتړ، د ۴ میلیونه، ۹۳ زره او ۸۰۶ افغانیو په ټولیز لګښت، بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د کابل ښار د پوهنې ریاست مسئولینو د معلوماتو له مخې د یاد ښوونځي د بیارغونې په چارو کې د ټولګیو بشپړ ترمیم، د ټولګیو او د ښوونځي د ودانۍ رنګول، د کانکریټي برخو بیارغونه، د دروازو او کړکیو ترمیم او نصبول، د ماتو ښیښو بدلول، د بامونو ایزوګام او نورې اړینې ودانیزې چارې شاملې وې.

د کابل ښار پوهنې رئیس محترم مولوي حسیب‌الله صاحب‌زاده، د ښوونځي د بیا پرانیستې په مراسمو کې وویل: ښوونیز بنسټونه د ټولنې د پرمختګ له اساسي برخو څخه دي او د ښوونځیو بیارغونه او معیاري کول د زده‌کوونکو لپاره د سالم او مناسب تعلیمي چاپېریال په برابرولو کې مهم رول لري.

نوموړي زیاته کړه چې د پوهنې وزارت هڅه کوي، ترڅو شته امکاناتو ته په کتو د ښوونځیو اړتیاوو ته پر وخت رسېدنه وکړي.

# برگزاری برنامه آموزشی برای شماری از معلمین در ولایت غزنی

ریاست معارف ولایت غزنی برنامه آموزشی ۶ روزه تحت عنوان یادگیری مؤثر را غرض بلند بردن سطح اگاهی مسلکی شماری از معلمین، مدیران و سرمعلمین مکاتب ولسوالی قره باغ ولایت غزنی راه اندازی نمود.

به گفته مسئولان ریاست معارف آن ولایت، این برنامه به هدف ارتقای ظرفیت های علمی و مسلکی معلمن و رهبری مکاتب راه اندازی شده است، که نقش به سزایی در بلند بردن کیفیت تدریس معلمین و کنترول وضعیت تعلیمی در مکاتب ایفا خواهد کرد. در این حال شماری از اشتراک کننده گان نیز با ابراز خرسندی از راه اندازی این برنامه گفتند که برگزاری همچون برنامه ها میتوانند نقش موثر در بلند بردن سطح علمی معلمین و مسئولان معارف داشته باشند آنان خواهان ادامه همچو برنامه های آموزشی در آینده نیزشدند.



# گزارش کوتاه از فعالیت های ریاست دعوت و ارشاد وزارت معارف

در هفته گذشته ریاست دعوت و ارشاد وزارت معارف به منظور نظارت، ارشاد و اصلاح، برنامه‌های مختلفی را در ۹ باب مکتب امارتی و خصوصی شهر کابل برگزار کردند.

به گفته مسئولان ریاست دعوت و ارشاد، در این روند ۴ باب مکتب امارتی و ۵ باب مکتب خصوصی تحت پوشش نظارتی قرار گرفتند و برای شاگردان، استادان و کارمندان اداری برنامه‌های متنوعی پیرامون ارزش‌های اسلامی، اصلاح سیرت و صورت، آگاهی دینی و موضوعات ارشادی ارائه شد.

در بخش مکاتب امارتی نیز از مکاتب ملالی، حضرت بلال، مسعود سعد و سپینه ادی بازدید به عمل آمد. در جریان این بازدیدها، برای شاگردان پیرامون اصلاح سیرت و صورت اسلامی، اهمیت تطبیق فرامین امیرالمؤمنین حفظه‌الله و تعالی و موضوعات مهم قانون امر بالمعروف و نهی عن المنکر سخنرانی‌هایی ارائه شد.

هم چنان به منظور ارزیابی رفتار و وضعیت ظاهری شاگردان بازدید صورت گرفت و توصیه‌های لازم به آنان ارائه شد.

در همین حال از مکاتب خصوصی حضرت نبوی صلی الله علیه وسلم، یلدا، بشارت علم، خانه نور و جهان نیز بازدید به عمل آمد.

در این مکاتب، به هدف تنظیم بهتر امور دعوت و ارشاد، مبلغین تعیین شدند، نصاب مربوط به دعوت و ارشاد در اختیار آنان قرار گرفت و برای استادان و کارمندان اداری در زمینه اصلاح اخلاق اسلامی، سیرت و صورت، رهنمودها و سفارش‌های لازم ارائه شد.

براساس معلومات ریاست دعوت و ارشاد، در نتیجه این فعالیت‌ها سطح آگاهی شاگردان، استادان و کارمندان اداری در مورد ارزش‌های اسلامی و موضوعات ارشادی در محیط‌های آموزشی افزایش یافته و زمینه‌های لازم برای تداوم و تقویت فعالیت‌های دعوتی و اصلاحی در مکاتب خصوصی نیز فراهم شده است.

# آغاز کار ساخت تعمیر جدید برای یک باب مکتب در ولایت غور

کار ساخت تعمیر جدید برای لیسه کندیوال در شهر فیروز کوه مرکز ولایت غور به هزینهٔ بیش از ۲۳۰ هزار افغانی به کمک مالی باشنده گان محل آغاز شد.

مسئولان ریاست معارف ولایت غور میگویند که این تعمیر دارای ۵ صنف درسی خواهد بود که با ساخت آن زمینه آموزش برای صدها تن از شاگردان در فضای مناسب آموزشی فراهم می شود.

محترم الحاج مولوی غلام محمد کاظم رئیس معارف ولایت غور در مراسم تهداب‌گذاری این تعمیر، از همکاری مردم معارف‌دوست محل قدردانی نموده گفت: پیشرفت و آبادانی هر ملک در گرو گسترش علم و دانش است و سرمایه‌گذاری در بخش معارف، تضمین برای پیشرفت ملک به شمار می‌رود.

وی از سایر هموطنان نیز خواست که برای گسترش و پیشرفت هر چه بیشتر معارف در ملک به حمایت مادی و معنوی شان ادامه دهند.

**فتح و آزادی ملک عزیز ما در نتیجه جانبازی ها و قربانی های مجاهدین امارت اسلامی و ملت غیور افغان به دست آمده است، بیائید تا با کسب علم و دانش از آن حراست نمائیم.**